مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهنمل حاجي محمد نوزادي

۲۰۱۹/۰۵/۲۰

# د اساسي قانون ۶۱ ماده،

## ابهام او وضاحت

پدې ورځو کې چې د اولسمشرى ټولټاکني را نژدې کيدونکى دي ، د اساسي قانون ۶۱ ماده د هيواد په ټولو رسنيو کې خورا ډيره پورته کښته کيږي او هر څوک يي د خپل نظر په کټه او د مخالف نظر پر ضد کاروي . زه هم غواړم پدې اړه د خپل نظر څو ټکي د حقوقي پلوه د خپلو لوستونکو سره شريک کړم . د لوستونکو څخه مي هيله داده ، که مي حقوقي تحليل د چا په آند سم نه وي ، په حقوقي دلايلو دي راته اصلاح کړي . د اشرف غني دغو څه کم پنځه کلونو زعامت و ښوده چي زه هيڅ ډول اداری ، سياسي يا عقيدوي تړاو نه ور سره لرم . له دي نه پرته ټولو لوستونکو ته مالومه ده چي ما پخپلو ليکنو کي تل خپل ازاد خيال ساتلی دی . اشرف غني مي د يوه مدير په توګه هيڅ نه خوښيږي ، خو علميت او د اقتصادي پلان جوړولو پوهه يي دده تر سيالو نوماندانو لوړه وينم . زما په نظر به منطقي خبره دا وی چي د اشرف غني د منفي يا مثبتو اړخونو په باره کي دده د سيالو نوماندانو په پرتله قضاوت وشي ، نه دا چي په مجرد ډول ده ته ښه يا بد وويل شي . ښکاره خبره ده چي يوازی ده ته بد ويل پخپله دده د نورو سيالو نوماندانو د تائيد مانا هم ورکوي او برخلاف .

اوس به را وګرځو اولسمشريزو ټولټاکنو او د اساسي قانون ۶۱ ـ تمی مادې ته :

پدغي مادي په پيل کي درى ، يو د بله سره تړلي برخی د پام وړ دی :

۱ ــ د جمهور رئيس پنځه کلنه د کار موده .

۲ ــ ددغي مودي د پای ته رسيدو مخکي د يوې څخه تر دوو مياشتو په موده کي د نوي جمهور رئيس د پاره د ټولټاکنو تر سره کيده .

۳ ـ ور سره سم د موجود جمهور رئيس لخوا د جوزا په لومړی نيټه د واک ليږدول .

په دغي دريمي برخي کي هغه څه چي وضاحت لرى ، د جوزا لومړی نيټه ده . دا چي واک بايد چاته و سپارل شي ، ځرګندوالی يي د بشپړ ابهام سره مل دي . دې ابهام ته بيا دوهمه برخه ښه او ځرګند جواب لري ، چي هغه د جوزا د لومړي نيټی وړاندي ياني د وري او غوايي مياشتو کي د نوي جمهور رئيس ټاکل دي چي بايد واک ورته وسپارل شي .

بل ابهام دادی چي که ټولټاکني د هر فورس ماژور غير مترقبه لامل له مخی تر سره نه شوي ، بيا به دا واک چاته پريښودل شي ؟

پدې اړه څه موده وړاندي ستري محکمي د اساسي قانون د ارزښتونو ، د هيواد نازکو حالاتو په کتو او د تيرو ټولټاکنو ورته دود ته په پام سره او همدارنګه دا چي د اوسني جمهور رئيس پنځه کلنه موده بشپړه شوی نده ، دا حقوقي پريکړه وکړه چي اوسنی جمهور رئيس بايد د نوي جمهور رئيس تر ټاکلو پوري خپله دنده مخته بوزي .

ددغه مشکل د حل د پاره د راتلونکو ټولټاکنو يو شمير نوماندان بيا وايي چي د محکمي دا پريکړه د اساسي قانون د ۶۱ ـ تمي مادی سره اړخ نه لګوي . دوي د يوې طرحي پر بنسټ وړانديز کوي چي بايد اشرف غني د جوزا د لومړي نيټي وروسته واک و يوه سرپرست شخص ته و سپاري کوم چي د يوي لويي سياسي اجماع د لاري وړاندي کيږي .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

البته دوی دا نه ښئی او یا یي ښودلای نه شي چي دغه لویه سیاسی اجماع به د اساسي قانون د ۶۱ مادې سره څه سمون ولري او یا به د کومي بلي مادي له مخي منځته راشي . په دې توګه که د دوي له آنده د ستري محکمې پریکړه یو غیر قانوني عمل وي ، بیا نو ایا یو غیر قانوني عمل د یوه بل غیرقانوني عمل په مټ اصلاح او قانوني ګرځیدلای شي . که چیري اساسي قانون د یو چا په مقابل کي وثیقه ګرځوو ، نو خپل په مقابل کي هم باید دا وثیقه سپکه و نه ګڼو ، کنه نو د قضاوت پیښي به مو ګوډي پاتي وي .

پای

ډنمارک ـ ۱۸ / ۵ / ۲۰۱۹


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ